# مطبوعاتي اعلاميه

## امریکا خپل مزدوران د خپلو موخو  د ترلاسه کولو وروسته یوازې پرېږدي، نو ایا دوی کله هم له دې څخه عبرت نه اخلي؟

د ۱۴/۸/۲۰۱۹مه، د متحده ایالتونو اداري پرېکړه وکړه چې خپلې خاورې ته د سوډان د استخباراتو مخکیني مشر صلاح عبدالله (غوش) د ننوتلو مخنیوی وکړي. د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په یوه بیانیه کې چې د بهرنیو چارو وزارت پر وېبپاڼه خپره شوه داسې راغلي وو: «له شک پرته امریکا دا پرېکړه کړې ځکه غوش د بشر د حقونو پر وړاندې په ډېرو سرغړونو کې ښکېل دی». د سوډان په ټربیون وېبپاڼه کې راغلي: «د حیرانتیا خبره ده چې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د امریکا د مرکزي استخباراتي اداري یا CIA مشري هغه وخت پر غاړه اخیستې وه چې غوش د ۲۰۱۸ کال په جریان کې د امنیت او استخباراتو د مشر په توګه وګمارل شو، خو هغه مهال د ده لپاره ګواښ نه و، په ځانګړي ډول امریکایي چارواکی کولای شي د امریکا ملي ګټه استثنا وبولي.»

دا د امریکا ربښتینی واقعیت دی چې حزب التحریر یې تل د ټګ ماري په اړه مسلمانانو ته خبر ورکوي. په واقعیت کې غوش د اسلام (په اصطلاح ترورېزم) پر وړاندې جګړه کې د امریکا لپاره ډېر خدمت وکړ، په داسې حال کې چې د ده لپاره یې نه یوازې په درد ونه خوړل، بلکې ارزښت یې هم لوړ نه شو. د ۱۷/۰۵/۲۰۱٦مه، واشنګټن ټایمز ورځپاڼې د «د ترهګرۍ ملاتړې دولت» تر سرلیک لاندې یوه مقاله خپره کړه، په دې مقاله کې ویل شوي وو، چې سوډان د اسلامي دولت پر وړاندې جګړه کې د امریکایي ایتلاف غړیتوب پسې ګرځي، ورځپاڼه دا خبره په امریکا کې د سوډان د سفیر معاویه عثمان خالد له خولې وایي چې هېواد یې مخکې له مخکې امریکا او ایتلافي استخباراتي اژانسونو ته مهم معلومات ورکړي دي. همدارنګه د سوډان د استخباراتي اداري چارواکو له فرانسې، ایټالیې او امریکا سره اوږه په اوږه په ټوله وچه کې د ترهګرۍ پر وړاندې عملیات همغږي کول. داسې انګېرل کېږي چې سوډان په ټوله نړۍ کې د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې د امریکا یو نږدې ملګری دی). (Al-Jazeera.net)

په دې ټولو سربېره، امریکا په ډېرې سپین سترګۍ او سپکاوي سره خپل لاسپوڅي د سړک له غاړې لکه د اشغالو په څېر بېلر کې اچوي او هېڅوک نشته چې د دوی لپاره اوښکې تویې کړي، په داسې حال کې چې دوی ته په خپلو هېوادونو کې پوره قدرت سپارل شوی و او د دوی خیانت له الله سبحانه و تعالی او د هغه له پیغمبر صل الله علیه وسلم او خپل امت سره تر  ډېره دوام درلود. دا لومړی ځل نه دی، تر دوی مخکې د البشیر د حکومت رژیم په هغو جرمونو اعتراف کوي چې دوی د خپلو خلکو پر وړاندې د امریکایي ګټو د خوندیتوب لپاره سرته رسولي دي. دوی د خلکو د خپګان او ناخوښۍ سربېره امریکایانو نورو جرمونو ته هم مجبورول. له دې سره سره امریکایانو تر هغه وکارول چې رانسکور شول او پر ځای یې نور کسان وګومارل.

د ۲۱/۱۱/۲۰۱۸مه، د بهرنیو چار وزیر الدرداري د ۲۴ فرانس سره په خبرو کې وویل چې د ده هېواد په هغه سیمه کې چې د سوډان په جنوب کې موقعیت لري له امریکا سره د یوې سترې ستونزې په هواري کې مرسته کړې ده. د سوډان د بهرنیو چارو وزیر، ابراهیم غندور هم د ۱۳/۰۴/۲۰۱۷مه د پنجشنبې ورځ وویل: «په واقعیت کې د جنوب بېلوالی یوه دسیسه وه چې موږ ومنله». سربېره پر دې، له سپوټنیک وېبپاڼې سره په یوه مرکه کې چې د ۲۵/۱۱/۲۰۱۷مه د شنبې

ورځ خپره شوه، ولسمشر البشير وويل: «د سوډان په اړه د امریکا فشار او دسیسه ډېره لویه ده، دارفور او د سوډان جنوب اړوند موضوعاتو له امریکا مرسته او ملاتړ تر لاسه کړی او د دوی د فشاره له کبله د سوډان جنوب بېل شو... دغه بېلتون د امریکا د دسیسې او فشار له امله و او داسې پلان یې درلود چې سوډان ویجاړ او په پنځو هیوادونو وویشي...».

موږ د سوډان حزب تحریر څو ځله د امریکا د دستورونو د منلو او د دوی د اجنډاوو د پیروۍ د ناوړه پایلو په اړه چې په دې هېواد او خلکو یې پلې کېږي د الله سبحانه و تعالی د لاندې وینا په اړه خبرداری ورکړی دی:

(إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُواْ لَكُمْ عَدُوّاً مُّبِيناً)
[النسأ: ۱۰۱]
ژباړه: کافران ستاسو ښکاره دښمنان دي».

آیا هغه سیاستوال چې ځانونه یې په کافرو ښکېلاګرو لکه امریکا، اروپا او روسیه پورې تړلي دي؛ د توبې په لټه کې نه دي، آیا دوی له خپلو ګناهونو لاس نه اخلي او خپل لاسونه د هغو مومنو وروڼو په لاسونو کې نه ورکوي چې د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره کار کوي چې غواړي له اسلامي خاورو د کافرانو رېښې له بیخه وکاږي او د خاوري د آزادۍ لپاره یې متې رانغاړلې دي او غواړي د دوی له واک څخه خلک خپلواک کړي، هغه خلافت چې د الله تعالی ژمنه او د هغه د پیغمبر صل الله علیه وسلم زېری دی.

الله تعالی فرمایلي دي:

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً

*ژباړه: (الله تعالی له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او ښه عملونه تر سره کوي، ژمنه کړې ده چې هغوی به لکه د تېرو کسانو په څېر په ځمکه کې خلیفه ګان وګرځوي. د هغوی لپاره به دین چې الله تعالی ورته خوښ کړي دي پر محکمو بنسټونو ودروي. د هغوی د ویري (اوسنی) حالت به په امن بدل کړي.*

**ابراهیم عثمان (ابو خلیل)**
**د حزب تحریر ولایه سوډان مطبوعاتي دفتر ویاند**
**د صدور ګڼه:٦٥ / ١٤٤٠ HTS**
**۱۴۴۰ د ذوالحجې ۱۵مه**
**۲۰۱۹ د اګېست ١٦مه**